د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د عدالت دپاره اوبه – د سمنګان د عدلیې د ریاست دپاره د ابورسولو نوئ سیستم

ایبک، سمنګان، د ۲۰۱۷ کال د فبروري د میاشتې ۱۲ مه نیټه – د ښه کار ترسره کول د کار ښو شرایطو ته اړه لري. دغه اصل د سمنګان د عدلیې د ریاست او د هغه د خدمتونو د عرضې په باب هم صدق کوي. په کال ۲۰۱۱ په ایبکو کې د نوموړي ریاست د پرانیستلو د نیټې راهیسې کارکوونکو په خپلو دفترونو کې اوبو ته لاسرسی نه درلود. نن د قانون د واکمنۍ د ټینګښت په اړه د افغان- المان د همکارۍ پروګرام د سمنګان د عدلیې ریاست ته د اوبورسولو یو نوئ سیستم تسلیم کړ.

تر ننې ورځې پورې، اوبو ته د مناسبې لاسرسي نشتوالۍ د نوموړي ریاست دکار خنډ ګرځیدلی وو. د لاریو په وسیله اوبه مانۍ ته راوړل کیدلې چې د ریاست د کار بهیر یې اخلال کاوه. د اوبو نشتوالۍ د کارکوونکو د کار د اغیزمنتیا کچه راټیټه کړې وه او هغوی په سختۍ سره کولای شول خپله پاملرنه په تیره بیا د دوبي په موسم کې کار ته واړوي.

دا ډیره مهمه ده چې د سمنګان د عدلیې ریاست خپلې دندې په مناسبه توګه سرته ورسوي ځکه نوموړې دندې د قانون د واکمنۍ دپاره ډیر اهمیت لري. په نوموړي ریاست کې د افغانستان په شمال کې خلک د حقوقي مسئلو په باب سلامشورې په لاس راوړي او د حقوقو مدیریتونه د ټول ولایت څخه د هغوی د ورځنۍ کارونو او تخنیکي لړیو په باب مرستې په لاس راوړي. د کار ښه چاپیریال د نوموړي ریاست کارکوونکو ته امکان ورکوي چې د خلکو دپاره سمون ورکړل شوي خدمتونه وړاندې کړي. د عدلیې د ریاست مشر ښاغلي سید رفیع الله صفوي څرګنده کړه: "د قانون د واکمنۍ د ټینګښت پروګرام زمونږ سره نه یوازې تخنیکي مرستې کوي بلکه د افغانستان د عدلي سکتور دپاره بیخبنایي امکانات برابروي."

دافغان-المان د همکارۍ اداره د آلمان د اقتصادی همکاریو او پراختیا وزارت(BMZ) په استازیتوب د افغانستان د حکومت سره یوځای په افغانستان کې د قانون د حاکمیت د ټینګولو په لاره کې کار کوي. د ۲۰۰۳ کال را په دې خوا " د قانون د حاکمیت د ټینګښت" (RoL) پروژه د افغانستان د عدلیې وزارت سره د ټولو خلکو دپاره عدالت ته د لاسرسۍ د تامینولو د هڅو په لاره کې مرسته کوي او دې موخې ته د رسیدو دپاره، عدالت ته د ټولو خلکو د نښې لاسرسۍ او همدارنګه د عدلي او قضایي سکتور د کارکوونکو مسلکي ظرفیت ته د سمون ورکولو څخه ملاتړ کوي په عین حال کې د خلکو د حقوقي پوهاوي د کچې په لوړولو کې مرسته کوي. د نوموړي پروګرام په لړکې د اړونده وزارتونو ترمنځ د اړیکو ټینګولو ته پاملرنه کیږي ترڅو د هغوی ترمنځ برابر حقوق او لانبه همکاري تامین شي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de